# صورت حال جلسه عمومی مشرانوجرگه

# مورخ ۱۶ جدی ۱۳۹۷ هجری شمسی

**فضل هادی مسلم یار:** سناتورصاحبانو خويندو او وروڼوتول سترې مشئ سهارمو نیکمرغه، منشي صاحب آجنډا قرائت کړئ.

ډاکټرمحمدفیل سمیع: یونۍ د ۱۳۹۷ کال د مرغومي دمیاشتې ۱۶مه نیټه.

آجنډا

دقرآن کریم د ځومبارکو آیتونو تلاوت.

دملي سرود خپرول.

۱- آزاد بحث د افغانستان په هکله د آمریکا د جمهور رئیس دونالد ټرامپ د ورستنیو څرګندونو په تړاو.

۲- د پکتیا ولایت دزرمت ولسوالي څخه د مشرانو جرګې د سفر درپوټ اوریدل.

دعائیه او دنن ورځې د غونډې د پایته رسیدو اعلام.

یکشنبه ۱۶ ماه جدی سال ۱۳۹۷

آجندا

تلاوت آیات چند از کلام الله مجید.

پخش سرود ملی.

۱- بحث آزاد درمورد اظهارات آخیردونالد ترامپ رئیس جمهور آمریکا بارتباط افغانستان.

۲- استماع گزارش هیئت مشرانو جرگه ازولسوالی ز رمت ولایت پکتیا.

دعائیه واعلام ختم جلسه امروزی.

درابتدا آیات چندی از قرآن کریم تلاوت وبعدا سرود ملی دولت جمهوری اسلامی افغانستان پخش گردید.

آزاد بحث

**امان الله عظیمي:** دآمریکا جمهور رئیس ټرامپ څرګندوني د افغانستان دمجاهدینو قربانیو ته سپکاوی دی، نو هیله مو دادی چې ټرامپ په خپله وینا بیا کتنه وکړي،دافغانستان خلکو خو له آمریکا د لاس وهني غوښتنه نه وه کړې، آمریکا دخپلو ګټو دساتلو دپاره افغانستان ته پوځونه را استولي دي.دافغانستان له حکومت څخه هیله لرم چې په دې تړاو ملګرو ملتونو ته شکایت وکړي.

**محمدآجان منګل:** آمریکا حق نه لري چې له هند،پاکستان،روسیې او نورو هیوادونه د افغانستان جګړې ته راوبولي.افغانستان یو خپلواک هیواد دي او خپلې پریکړې به په خپله کوي، د ټرامپ له وینا دا مالومیږي چې آمریکا په افغانستان کې ماته خوړلې ده.

**بازمحمدزرمتی:** دآمریکا د ولسمشرسیاست بیخي خام دی،دوی کله دافغانستان جهاد ته کله د ډیورنډ کرغیړنې کرښې ته نغوته کوي،زه دهغه وروستنۍ خبرې په کلکه غندم.دآمریکې په ولس غږ کوم چې په راتلونکي ټاکنو رایه ورنکړي.

خبرشوم چې دایزدیارصاحب مخه نیول شوي ده،بایدهغه کسان ومونډل شي چې

دایزدیارصاحب لاره یې ډب کړې وه چارواکي باید په دې تړاو وضاحت ورکړي.

**رحمت الله اڅکزی:** ټرامپ په ۲۴ ساعتونوکې ۵۰ خبرې کوي خو یوه یې هم نده عملی کړې او د آمریکا ولس د هغه په ویناوو باور نه لري.ټرامپ په خپلو ورستنیو خبروکې یوازې د مجاهدینو سپکاوی نه دی کړی بلکې هغه دملگرو ملتونو، دآمریکا دهغه وخت د جمهور رئیسانو،کانگرس او ټولو هغو هیوادونو سپکاوی کړی دی چې په هغه زمان کې یې د مجاهدینو د مبارزې او جهاد ملاتړ کول،ټرامپ ته په کارده چې په دې برخه کې د افغانستان له ولس څخه بښنه وغواړي.

دافغانستان اشغال ته باید هند، پاکستان او روسیه را ونه بولي،آمریکا په خپله ترټولو غټ سیاسي او پوځي ځواکمن هیواد دی خو په افغانستان کې یې ماته وخوړه او د ټرامپ ورستني وینا په افغانستان کې د آمریکا د ماتې دمنلو نه بل څه نشي تعبیریدای،اوس نو دآمریکا نظامي،سیاسي او اقتصادي رول ټول له منځه تللی دی. ټرامپ وویل چې افغانستان شوروي په روسیه بدله کړه نو دټرامپ ددې خبرې مانا بل شی نشي کیدای بې له دې چې هغه به هم په نړۍ کې خپل ټول متحدین له لاسه ورکړي.

ویل کیږي چې دجدې دسولې مذاکرات ځنډیدلي دي، په دې کې ګاونډي هیوادونه لاس لري.

وړاندیز کوم چې دټولو هدفي وژنو مسئولین باید مالوم شي.

**مولوی عبدالله قرلق:** جهاد مردم افغانستان جهاد برحق بود این جهاد برای دفاع ازتمامیت ارضی،دفاع ازدین وجهاد دربرابرتجاوزبزرگترین قدرت نظامی وقت اتحادجماهیرشوروي بود واظهارات آخیردونالډترامپ خلاف تمامي فیصله های شورای امنیت وپالیسی های گذشته ایالات متحده آمریکااست،افغانستان یک کشور مستقل است نباید دونالدترامپ درمورد کشورما اینچنین اظهارات می کرد.

تاخیرانتخابات ریاست جمهوری ایجاب می کند که پروسه ثبت نام کاندیدان هم به تعویق بیفتد.

آمنه افضلي:سفری داشتیم به جلال آباد،چیزی که مرا در این سفر رینج داد چلش پول پنجابی بود همه خرید وفروش در ولایت ننگرهار به کلدار صورت می گرفت پول افغانی هویت ملی ماست مسئولین باید به این امر خطیر توجه داشته باشند جای خیلی تاسف است که حتی والی هم مجبوراست اجناس مورد نیاز خویش را به کلدار خریداری نماید.

**سیدصفی الله هاشمی:**خدارا سپاسگذارم که نایب صاحب دوم از توطیه که علیه او راه اندازی شده بود جان به سلامت برده است.توقع است که مسئولین امنیتی درتامین امنیت فزیکی اراکین بلند رتبه توجه داشته باشند.

آمریکا درپیمان امنیتی که با دولت افغانستان بسته است پابندي نشان نداده است،دراین مورد اعضای مجلس سنا بارها ابراز نگرانی کرده است.درسیاست های دوگانه آمریکا در مورد افغانستان باید تجدید نظر صورت گیرد.اصلاحضورنظامی آمریکا درافغانستان باعث بدبختی مردم افغانستان ومنطقه شده است. اظهارات آخیررئیس جمهورترامپ نوع تمسخراست به ملت مومن ومجاهدافغانستان.سیاست های ترامپ در سطح منطقه وجهان خیلی طفلانه است.مجلس سنا باید دراین مورد عکس العمل جدی داشته باشد وحکومت افغانستان باید شکایت خود را علیه اظهارات تحقیرآمیزترامپ درملل متحد ثبت کند.

تاکید می کنم که دراین شرایط حساس مردم ما همبستگی داشته باشندوحدت ویکپارچگی خود را حفظ کنند و دسایس دشمنان را خنثی نمایند.

**لیلمااحمدی:**نتایج انتخابات ولسی جرگه هنوزهم اعلان نشده این امرسبب تشویش مردم شده است،امیدواریم که انتخابات سال آینده ریاست جمهوری مثل انتخابات ولسی جرگه پرچالش نباشند.

عملیات شبانه که راه اندازی می شودازافراد ملکی قرباني میگیرداین عملیات فاصله بین مردم وحکومت را زیادتر ساخته است.عملیات شبانه باید طوری سازماندهی شوند که به افراد ملکی درآن آسیبی نرسد.

**ډاکټرزلمی زابلي:**ریاست جمهوری یوه اعلامیه خپره کړه او په هغه کې د دونالد ټرامپ د وروستیو څرګندونو په وړاندې غبرګون ښکاره شوی دی.ټرامپ له خبرو داسې ښکاري چې مجاهدینو ته یې د تروریستانو خطاب کړې او دشوروي یرغل یې په افغانستان باندې برحق بللې دي.آمریکادلته د تروریزم سره د مبارزې په نوم راغلې ده،دمخدره توکو سره دمبارزې او دبشردحقونو دتامین په نوم یې دلته لښکرې راوستې،آمریکا دپورتنیو شعارونو برعکس دلته دمخدره توکو کښت او قاچاق زیات شو،دبشرحقونه ورځ تر بلې ترپښو لاندې کیږي، زموږ نظام یې پیاوړې نکړ اوس کوښښ کوي چې بیرته د افغانستان دخلکو برخلیک دپاکستان په لاس کې ورکړي.زه دجلالتمآب جمهور رئیس دهغه کړنې ملاتړکوم چې په کابل کې یې د آمریکا له میشت سفیرڅخه غوښتې دي چې دټرامپ دخبرو سپیناوې د وکړي.زه له

حکومت څخه غوښتنه کوم چې داموضوع د ټینګه ونیسي.
ددفاع اوکورنیو چارو له وزیرانو هیله کوو چې شپني عملیات د سم تنظیم کړي چې ملکي وګړو ته پکې مرګ ژوبله ونه رسیږي.موږ داډول عملیات په کلکو ټکو غندو.
په وزیراکبرخان روغتون کې ډېرتکړه متخصصین شتون لري هرکال تر۵۰ زیات متخصصین ټولنې ته وړاندې کوي.دارتوپیدي په برخه کې افغانستان یوازې یو روغتون لري چې هغه وزیراکبرخان دی. وزیر اکبرخان روغتون او دشیخ زاهد روغتون خصوصي سکتور ته لیږدول شوي دي،د دولتي سکتور څخه خصوصی سکتورته لیږد دا یوه ناکامه تجربه ده ولسمشر هم داحق نه لري چې یو دولتی ملي روغتون خصوصي کړي.دا روغتون دملي اتل وزیرمحمداکبرخان اتلولي دملت په خاطرو کې ژوندۍ ساتي موږ نه غواړو چې دانوم زموږ له فرهنګ او تاریخ څخه لیرې شي.که داکړنه ترسره شي نو په تاریخ کې به مو توړداغ په تندي کیښودل شي.
دبهرنیوچارو وزارت له مامورینوغوښتل شوي دي که د تافل آنلاین آزموینه ورکولی شی ښه کنه منفکې ته باید تیارشي آزموینه هم برتش کونسل ترې اخلي چې دا دقانون خلاف عمل دی.

**محمدافضل شامل**:فکرمی کنم که باخارج شدن نیروهای آمریکایی از افغانستان زمین وآسمان افغانستان برهم نمی خورد.وعده های دروغین که درکنفرانس بن داده شده بود تحقق نیافت بلکې سبب بحران بیشتر درکشور ما گردید.همه وعده هاتوخالی بودندباآمدن آمریکایان افزایش ناامنی،قوم گرایی،ایجاد فضای بی اعتمادی درمیان مردم افغانستان شدند،اینکه نیروهای خارجی وآمریکایی امروز می روند یا فردا دم روی شان خوبی.وقتی آمریکایان ازکشور ماخارج شوند بار ازشانه های ما کم می شود.
کاندیدان ولسی جرگه ولایت تخار اعتراضاتی راه اندازی کرده است ودرآن ولایت مشکلات ازین ناحیه بروز نموده است ازکمیسیون های انتخاباتی می خواهم دراین زمینه کاری را انجام دهند.

**کامل بیک حسینی**:دومورد راعرض می نمایم:
عضوجرگه عنعنوی بودم،درآن جرگه حضور آمریکا در افغانستان زیربحث بود،تمامی اعضای جلسه به این عقیده بودند که نیروهای آمریکایی در افغانستان حضور داشته باشند ولی سندی درزمینه به امضانرسید،ازلحاظ حقوقی امضای قرارداد وجایبی را برای طرفین به وجود می آورند،حالی بین افغانستان وآمریکا قرارداد امنیتی به امضارسیده است، درموجودیت این پیمان باید مصونیت برای مردم ما تامین می

شدنه تنها مردم ما درموجودیت این پیمان مصون نشدند بلکې به شکل بی رحمانه کشته شدند.خواهشم اینست کسانی که قرارداد را امضاکرده اندپاسخ بگویندکه آیا شرایط مندرج قرارداد ازطرف آمریکا رعایت شده یاخیر؟

هیئت مشرانو جرګه به ولسوالی زرمت ولایت پکتیا رفت ګزارش را آوردندباید این موضوع جدی پیگیری شودهمه ما درقبال تمامی قضایای کشور مسئولیت داریم تادرآینده چنین جنایات به وقوع نه پیوندد.

**انجنیرحسیب الله کلیمزی:** ویل کیږي چې د۲۰۱۹کال دمارچ په میاشت کې دترکیې په منځګړیتوب په انقره کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ مذاکرات کیږي،دې مذاکراتو ته باید دحکومت لخوا لازم تیاری ونیول شي.که حکومت په دې باور وي چې له پاکستان سره سوله ناشوني ده نو باید دجګړې بڼه بدله شي داجګړه باید زموږ په کلیو او کوڅوکې نه وي دا باید د دښمن کلیوکوڅوته هم وغځیږي.متاسفانه زه دخپل حکومت په مشرانو باندې باوري نه یم چې دوی به دومره لویې قرباني ته حاضرشي.

دسترغازي شهیدجنرال عبدالرازق په هکله باید ووایم چې تراوسه حکومت ونه توانیدل چې دهغه قاتلین محاکمه کړي،هیله مواده چې ولس ته باید دهغه قاتلین په ګوته کړي ولس به د هغه شهید غچ واخلي.

**نبیه مصطفی زاده:** ترامپ باید بارتباط اظهارات آخرش ازمردم مجاهد افغانستان معذرت بخواهد،بخاطری که هیچ یکی ازمفادات پیمان امنیتی را رعایت نکرد.ازمردم وملت خویش خواهش می کنم که وحدت ویک پارچګې خویش را حفظ نمایدوبرای سربلندې این ملت صادقانه باید جدوجهد بکنند.مردم ما باید بدانند که هرکس برای هدف خود دلبری میکند ومقاصد خود رادنبال می نمایند.

**محمدحنیف حنفي:** دشپنیو عملیاتو په تړاو وایم چې دا عملیات باید مطلق وځنډول شي او که کیږي نو دمحلي اداري سره په هم غږی کې وشي.

ملت دسولې تږې دی تل پاتې او سراسري سوله زموږارتیاده،په حکومت غږ کوم چې دسولې دخبرو ابتکار باید په خپل لاس کې واخلي.

**باختر امین زی:** ډاکټرصاحب زلمي د وزیرمحمداکبرخان روغتون تاریخ ته نغوته وکړه زه هم وړاندیزکوم چې باید پوه شو چې کومه اداره د دې مینه واله ده چې دا دولتي روغتون خصوصي کړي.زه فکر کوم دا هڅه ددې دپاره ده چې زموږ د اتلانو تاریخ ورک کړي،زموږ ملي هویت ته تاوان ورسوي،زموږ دپرځنګیانو نوم دملت له خولې وغورځوي.

دپکتیادزرمت په ولسوالي کې چې کومه پیښه شوې ده یوپلاوې هغې ولسوالي ته تللې وو خو

متاسفانه چې اداري پلاوي ماته خبرانکړ.په خوست کې یوه ځانګړې قطعه ده چې نعمت نومې یې مشري کوي هیله لرم چې دا تورتعقیب شي او لاملین یې محاکمه شي.

**محمدحسن هوتک:** دآمریکا دجمهور رئیس هغه خبرې په کلکه غندم چې د افغانستان جهاد ته یې سپکاوی کړې دی.دافغانستان جهاددنړۍ په کچه په رسمیت پیژندل شوی ووچې خپله آمریکا هم په دې لست کې شامل هیواد وو.نواوس څنګه داخبره کولی شي چې روسان هغه وخت د تروریستانو په وړاندې جنګیدل؟ اوس څنګه آمریکا د خپل تاریخ اود هغه هیواد دتیروسیاستوالو او دملګرو ملتونو د پریکړو په وړاندې ودریږي او هغه هرڅه ناسم کاربولي.هغه له یوې خوا وایي چې هغه وخت روسان په افغانستان کې د تروریستانو په وړاندې جنګیدل او بل خوا وایي چې د افغانانو په لاس شوروي اتحاد په روسیه بدل شو. داوینا بیخي یوه متناقضه وینا ده.

ټرامپ همداراز وایي چې آمریکا له ۶۰۰۰ میله هاخوا په افغانستان کې جنګیږي نو زموږ په عوض باید پاکستان،هند او روسیه وجنګیږي.آمریکا ته په کاروه چې ۱۸کاله وړاندې یې داسوچ کړی وای چې دومره توان لري چې په افغانستان کې وجګیږي.آمریکا دافغانستان قضیه پیچلې کړه چې اوس نړیوال او خپله آمریکا هم حیرانه ده چې څه وکړي.

په کابل کې دمکروریان په سیمه کې په یوټاور او په ننګرهار کې په یومارکیټ کې اورلګیدنه وشوه، مارکیټونه په داسې بڼه جوړیږي چې هلته د اوروژنې وسایط نشي ورتلی.

**مولوی غلام محی الدین منصف:** جهادمردم افغانستان جهاد برحق بودشوروی وقت برکشور ما تجاوز مسلحانه کردند وملل متحد اخراج شوروی را خواهان گردید.ما حرف های اورا محکوم می کنم باید این موضوع از طریق محاکم بین المللی اقامه دعوی شود ومشرانوجرگه باید طی اعلامیه این اظهارات را محکوم نماید.

ترامپ بالای هند تاخت درحالی که هند بیش از سه ملیارد دالر در افغانستان مصرف کرده است وخواهان تامین امنیت در افغانستان است ترامپ نه تنها ازکمک های هند قدردانی نکرد بلکې کمک های اورا مسخره دانست.باید بالای ترامپ فشارها وارد شود تا درچوکات قانون اساسی آمریکا وظایفش را پیش ببرد.هر مامور دولت از رئیس جمهور گرفته تا وزیر ومامور پائین رتبه باید درچوکات قانون عمل بکند واظهارات داشته باشد.معلوم می شود که آمریکا ازجنگ افغانستان خسته شده است تمام جهان باید مرهون مبارزات مردم افغانستان باشند

خصوصاْ ایالات متحده آمریکا.امنیت افغانستان سبب امنیت منطقه وجهان می شود وبی ثباتی ومشکلات افغانستان سبب بی ثباتی کشورهای منطقه وجهان می شود.

آتش سوزی های که درمارکیت ها وخانه های مسکونی رخ داددرجاده نادرپشتون،درچهارراهی عبدالحق شهید،درننگرهاراگر دراین زمینه توجه صورت نگیرد شاهد زیان های فراوانی مالی وجانی مردم خود خواهیم بود باید شاروالی ها،وزارت اقتصاد،وزارت شهرسازی متوجه باشند وقتی اجازه ساختمان داده می شود باید مالکین آن تمامی معیارهای ضروری را در نظرداشته باشند.

**فوزیه سادات ځمکنۍ:**مور، دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالی ته لاړو هلته یو مخور مشردنعمت نومي لخوا وژل شوي دی زه دا وژنې هدفي بولم باید عاملین یې محاکمه شي.

بل خوادټرامپ د ورستنیو خبرو په کلکه غندنه کوم او دمولوي صاحب منصف خبرې په دې تړاو ټکې په ټکې تاییدوم.

**ډاکټرغیرت بهیر:**خوښ یم چې ایزدیارصاحب له یوترووریستي برید څخه روغ را ووت.

آمریکایان افغانستان ته د افغانانو په غوښتنه نه دي راغلي اوکه وي هم دا یوسیاسي کور بلل کیږي، آمریکا په سیمه کې سیاسي،پوځي او اقتصادي موخې لري.اوس چې ښاغلی ټرامپ دخپلو پوځونو د وتلو خبرې کوي ښکاري چې سیاسي او نظامي ستراتژي یې له ماتې سره مخ شوی ده.زموږ افغانانو له شان او شوکت سره نه ښایي چې لمن یې کلکه ونیسو.دومره ویل غواړم چې دهغوی وتل باید دافغان حکومت سره په تفاهم او دیومعقول مهال ویش سره سم صورت ومومي.

دوهم عرض مې داده چې زه هم په خپل وارسره دافغانستان دجهاد په تړاو دښاغلي ټرامپ د وینا غندنه کوم دې څرګندونو ته هیڅ ډول توجیه او مبرر نه وینم.دآمریکاپه شان دیوهیواد دولسمشر وینا نه عاطفي وي، نه احساساتي وي او نه غیرشعوري،موږتاسو به ځانونه نه غولوو دټرامپ خبرې دیوپروګرام لاندې رواني دي، او محاسبه ورته شوې ده.زه دښاغلي ټرامپ داخبرې چې د اتحادشوروي اشغال دهغوی برید یې په افغانستان باندې توجیه کړهغوی ته یې برائت ورکړ داهم په کلکو ټکو غندم.هغه جهاد چې دهغه په پایله کې زموږ هیواد په ویرانه بدل شوخو ټرامپ ورته مبرر پیداکوي دا وینا له همدې کبله دغندنې وړده.ټوله نړۍ باید د افغانانو دجهاد مرهون واوسي نه یوازې زموږ دملت دقرباني په پایله کې افغانستان آزاد شو بلکې شوروي اوس دنقشې پرمخ شتون نه لري.ختیځه اروپا خپلواکه شوه دبرلین دیوال ونړید.

**محمدعلم ایزدیار:**ازیکایک شماتشکر می کنم به نسبت همدردی تان که در روز پنجشنبه ازیک حادثه جان به سلامت بردم ازحکومت می خواهم که به تامین امنیت همین راه توجه داشته باشد.

مسئله دوم عملیات شبانه ولسوالی زرمت بود که سبب شد یکی از بزرگان قوم واعضای فامیلش به شهادت برسند، من ازهیئت محترم مشرانو جرگه سپاسگذاری می کنم که بافامیل داغ دیده غم شریکی کردند وگزارشی از واقعیت های عینی آن ولسوالی باخود آورده باشدوامیدوارم که موضوعات مندرج این گزارش مورد توجه مقامات امنیتی وعدلی وقضایی قرار بگیرند.هدف اصلی ماوشما اثر بخشی به این گزارش است که هیئت از ولسوالی زرمت آورده وارائه می نماید.همه ما دربرابر خون مردم خود مسئولیت داریم باید صدای مظلومیت شان را بلند کنیم خون ریختاندن افراد ملکی هیچ توجیه ندارد.

درمورد اظهارات ترامپ رئیس جمهور آمریکا درتناقض با واقعیت های عینی جامعه وتاریخ است واین اظهارات ضد ونقیض بوده اتحادجماهیرشوروي برکشورما تجاوزمسلحانه نمودوکشور مارا اشغال کردند این اشغال اهداف ستراتژیک داشت تنها به افغانستان بسنده هم نمی کرد بلکې منطقه وجهان را تهدید می کرد. جهاد افغانستان درواقع دفاع ازبشریت،از آزادی واستقلال بودوهیچکس نمیتواند ازاین واقعیت ها چشم پوشي نماید.آمریکا درآن زمان از جهاد مردم افغانستان وازداعیه آزادی ملت ما پشتیباني بی دریغ نمود ولی اظهارات آخیرترامپ نه تنها به جهاد ملت ما توهین است بلکې توهین به ملت خود آمریکا هم است.

درمورد بررسی دوسیه شهادت جنرال صاحب رازق بررسی شود فکرمیکنم که دوسیه جنرال رازق مربوط به یک قوم ویک ولایت نیست امیدوارم که متهمین این قضیه شناسایی،افشا ومجازات شوند.به همین ترتیب دوسیه قضیه ولسوالی زرمت ولایت پکتیا که درآن یکی از متنفذین آن ولسوالی به شمول فرزندانش به شهادت رسیدند ومظلومانه به شهادت رسیدند بررسی شود تا چنین وقایع دیگه تکرارنشوند.

عوامل آتش سوزی هاباید ازطرف وزارت داخله و امنیت ملی بررسی شوند.

اوامر وزارت داخله که دراین اواخبر صادرشده برای پولیس کشور مفید است.

**داکترمحمدفیصل سمیع:**اظهارات آخیرترامپ دررابطه با جهاد مبارزات ملت افغانستان را محکوم می کنم فکر می کنم که ترامپ خطرکمونیزم را فراموش کرده است.مردم افغانستان جهان را از خطر کمونیزم نجات

داد.همه مشکلاتی که امروز درکشور ما است ناشي ازسیاست غلط آمریکا است، آمریکاهم حکومت افغانستان را زیر سیروم نګه کرده وهم مخالفین مارا که طالب وداعش است زنده نګه کرده است آمریکا یا باید با ما دوستی کند ویا با مخالفین ما.آمریکا بعد از ۲۰۰۸ درهیچ نقطه ازکشور ما با مخالفین حکومت افغانستان نه جنګیدندبغیرازبمبارهای کورکورانه مثل بمبارچند روز پیش ولسوالی زرمت که متاسفانه تلفات ملکي را به بار آورد.آمریکایان نظاره ګرتمامی وضعیت نابه سامان کشور ماًاندمن اظهارات ترامپ را محکوم می کنم.

نتایج انتخابات ولسی جرګه ولایت بغلان اعلام شد ولی کاندیدان ازاین نتایج نګران اند.امیدوارم که کمیسیون شکایات انتخاباتي به این نګرانی ها توجه داشته باشند.

**فضل هادي مسلم یار:** شهید جنرال عبدالرازق په ټول ملت پورې تړاو لري،داموضوع به له ملي امنیت سره تعقیب کړو،کومه پیښه چې دقره باغ په سمیه کې شوې او په هغه کې ښاغلي ایزدیارصاحب هدف وو الحمدلله داپیښه په خیرتیره شوه اوس ایزدیارصاحب له موږ تاسو سره دی روغ رمټ دي او په پیښه کې ورته تاوان نه دی رسیدلي.

دزرمت دپیښې په تړاو باید ووایم چې دا غم لړلي پیښه وه رپوټ به وروسته واورو، موږ په شپنیو عملیاتو له دې کبله نیوکه لرو چې تل ملکي تلفات له ځان سره لري.که ثابت شي چې نعمت نومې ددې قضیې مسئول دی نه له قید اوشرط پرته به يې محاکمه وغواړو او دمجلس دمصوبې یوه برخه به جوړه شي.

دشرم ډکه خبره ده چې زموږ په ملک کې په پردیو اسعارو معاملې کیږي.خلک او حکومت باید په ګډه دې ملي مسئلې ته توجه وکړي په تیره بیا په ننګرهار کې محلي چارواکي او ولسونه باید خپل بانک نوټ وچلوي.

ټاکنې یادې شوې، موږ د رښو پایلو او رښو ټاکنو غوښتونکي یو دشکایتونو کمیسیون دي خپله دنده دقانوني واکونو په چوکاټ کې ترسره کړي او دمعترضو نوماندانو شکایتونه دې له قانون سره سم وڅیړي.

دوزیراکبرخان روغتون په تړاو خبره وشوه دعامه هوسایني کمیسیون،ډاکترصاحب زلمی زابلی او هر هغه سناتور چې په دې برخه کې مینه وال وي وزیراکبرخان روغتون ته لاړشي خپل رپوټ د ترتیب کړي بیا به موږ په خپل وار مرسته ورسره کوو او په رسمي توګه به د دې موضوع شا ونیسو.

دعامې روغتیا وزارت به لیک ولیږو ترهغه وخته چې مشرانو جرګه قانع شوې نه وي خصوصي سکتور ته ددې روغتون له لیږد څخه په کلکه ډډه وکړي.

دبهرنیوچارو د وزارت دکارکوونکو ستونزه یاده شوه د بین المللي چارو کمیسیون دې موضوع وڅیړي او رپوټ دې عمومي مجلس ته وړاندې کړي.

داورلګیدني موضوع یاده شوه اړوند کمیسیون د څیړنه وکړي.

دآمریکادجمهور رئیس وروستنی څرګندونې د اکثریت سناتورصاحبانو لخوا یادې شوې او دا څرګندونې یې وغندلي زه هم په خپل وارسره داوایم چې داڅرګندونې دافغانستان مقدس جهاد ته سپکاوی ده،دافغانستان شهیدانو،معلولینو،مهاجرینو ته سپکاوی ده یوزیات شمیرافغانانو ته دهمدې نوم لاندې پناه ورکړې ده،آمریکا هغه وخت زموږ دجهاد ملاتړ کړې وو،ملګرو ملتونو،اسلامي هیوادونو او دسیمې هیوادنو زموږ دخلکو ملاتړ کړې وو، زموږ دخلکو پرځنګ پایله داشوه چې نه یوازې افغانستان خپلواک شوبلکې شوروي په روسیه بدل شو شرقي اروپا خپلواکه شوه، موږ دخپلوولسونو په قربانیو ویاړو،متاسفانه وروسته د یوڅوډلو د خود غرضي او واک غوښتنې له امله د جهاد نوم او شهرت ته تاوان ورسید،دایو بیل سوال ده.

آمریکاته په کارده چې د امنیتي پیمان په چوکاټ کې دافغانستان له حکومت سره مخکې لاړشي، له جناب کرزي صاحب،جهادي مشرانو څخه په کلکه غواړم چې دیووالي په لور چټک ګام پورته کړي،داملک له یووالي او وحدت پرته پرمخ نه درومي ټول سیاسیون باید اختلافات یوې خواته پریږدي،دټرامپ څرګندونې موږ ته پیغور ده، مشران دې د الله درضا په خاطر د دې ملت د هوسایني په خاطر له اختلافاتو تیر وروروليي او یووالي ته دې متعهد شي.

دغونډې په بله برخه کې دمشرانو جرګې موظف پلاوي د پکتیاولایت د زرمت ولسوالي څخه دغه رپوټ غونډې ته وړاندې کړ:

د مشرانو جرګې پلاوی هریو : سناتورباز محمد زرمتي ، سناتور محمد حنیف "حنیفی " ، سناتور محمد هاشم الکوزی ، سناتور فوزیه سادات ځمکنی ، داکتر محمد آجان منګل اوسناتور صاحب عظیمی په ۱۱/ ۱۰/ ۱۳۹۷ نیټه د سه شنبې ورځې د مشرانو جرګې د عمومي غونډې د پریکړې پر بنسټ د حاجي محمد نعیم فاروقي زرمتی دکورنۍ د شپږو غړو د شهادت د موضوع د څیړنې په موخه د پنجشنبې په ورځ پکتیا ولایت ته سفر وکړ.

په سر کې د مشرانو جرګې پلاوي د پکتیا ولایت په (۲۰۳) تندر قول اردو کې چې د ولایت سرپرست، د (۲۰۳) تندر قول اردو قوماندان، د یاد ولایت د ملي امنیت رئیس، د امنیې قوماندان، قومي مشرانو او د شهید محمد نعیم فاروقی زوی هم حاضر و، د زرمت ولسوالۍ د

شپېرو شهیدانو پاك روح ته دعا وکړه، ورپسې مسوولینو او قومي مشرانو په وار سره د زرمت د شپېرو شهیدانو د شهادت په اړه چې د بهرنیانو په عملیاتو کې شهیدان شوي و، خبرې وکړې.
د زرمت قومي مشرانو وویل چې په ۱۰/ ۱۰/ ۱۳۹۷ نیټه د شپې په ۵۰: ۹ بجو او پنځوسو دقیقو د بهرنیو او کورنیو ځواکونو یوه سمباله ډله د حاجي نعیم فاروقی کور ته ور دننه او په ډېر بې رحمانه ډول یې خپله حاجي نعیم فاروقی ، د هغه درې ځوان زامن چې ټول محصلین و په ټوله کې د یادې کورنۍ شپږ غړي یې په بې غږه وسلو باندې په شهادت ورسول . په دې پیبنه کې څو موټر او تراکتورونه هم له منځه تللي او زیات مالي زیانونه یې اړولي دي. په داسې حال کې چې د ملي اردو پوسته د شهید محمد نعیم له کور سره نږدې پرته وه، کومې قطعې چې د حاجي محمد نعیم پر کور برید کړی ؤدنعمت الله تنیوال ترمشری لاندی او له خوست ولایت څخه راغلې وه. قومي مشرانو ټینګار وکړ چې حاجي محمد نعیم کومه ګناه نه درلوده او بې ګناو او ناحقه په شهادت ورسید. دوی غوښتنه وکړه چې ژر تر ژره دې د حاجي نعیم د شهادت قضیه په هر اړخیز ډول وڅېړل شي.
د غونډې په بله برخه کې د (۲۰۳) تندر قول قوماندان، د ولایت سرپرست، د امنیې قوماندان او د پکتیا ولایت د ملي امنیت رئیس په جلا جلا ډول خبرې وکړې، د یاد ولایت چارواکو د حاجي نعیم پر کور د برید په اړه یې خپله ناخبري وښوده او ویې ویل چې موږ په دې اړه خبر نه وو او زیاته یې کړه چې ددوی له همغږۍ او خبر پرته دا کار ترسره شوی دی. یادو چارواکو د حاجي محمد نعیم شهادت یوه ستره ضایعه وبلله، ویې ویل چې حاجي محمد نعیم یو پوه او سوله پال شخص و. دوی زیاته کړه چې په دې اړه یې څېړنې روانې دي او د څېړنو له بشپړېدو وروسته به معلومات له ټولو خلکو سره شریك کړي.
دغه راز د پلاوي غړو، په غونډه کې موجودو قومي مشرانو او ګډونوالو د بهرنیو په شپنیو عملیاتو نیوکه وکړه او ویې ویل چې په څو ولایتونو کې د شپې عملیات ترسره شوي چې له امله یې یو زیات شمیر بې ګناه او ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اوښتي ده. دغه ډول نه یوازې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځیدلي بلکې ملي اردو او ملي پولیسو ته هم پکې مرګ ژوبله اوښتي ده.
خلك او سیمه ییز مشران په جدي ډول د ملي یووالي حکومت له مشرانو غواړي چې د بهرنیو ځواکونو د شپنیو عملیاتو مخه دې ونیسي، څو له دې زیات د خلکو او حکومت تر منځ واټن زیات نه شي.

د پلاوي غړو د پکتیا ولایت خلکو په ځانګړي ډول د شهید حاجي محمدنعیم له کورنۍ سره ژمنه وکړه چې د یادې قضیې د څیړنې په برخه کې به له هیڅ راز هلو ځلو ډډه ونه وکړي، څیړنې ښيي چې حاجي محمد نعیم په بشپړ ډول په بې ګناه ډول په شهادت رسیدلی دی، ژر تر ژره باید ددې قضیې عاملین ونیول شي او د قانون منګولو ته وسپارل شي، څو په راتلونکي کې د بې ځایه شپنیو عملیاتو چې د بې ګناه خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي مخه ونیول شي.

فضل هادي مسلم یار:حنفي صاحب تاسو خپل کارته دوام ورکړئ،امنیتي چارواکي راوغواړئ بیا عمومي مجلس ته رپوټ وړاندې کړئ.

ټوپکسالاران باید ټول تصفیه شي څوک چې د وسله وال پوځ له نوم څخه ناوړه ګټه اخلي او دحکومت او ملت ترمنځ واټن زیاتوي هغه هم ټوپک سالار دی.پریکړه به داسې وکړو چې نعمت تنیوال اودهغه ملګري دې د ملي امنیت لخوا عدلي او قضایي ارګانونه ور وپیژندل شي ترهغه وخته چې عدالت قایم شي.

دپکتیاوالي باید کمیسیون ته راشي تاسو دهغه دلایل واورئ بیا مجلس ته رپوټ ورکړئ اداري پلاوی ستاسو په چوپړ کې ده.دپکتیا دوالي غبرګون دمشرانو جرګې دپلاوي په وړاندې غندو.

###